د اصحابو کیسې

# خاندیدونکې غوټۍ

## د وهب لور بي بي امنه (سلام الله علیها)


لیکوال: مهدي وحیدي صدر

ژباړه: محمد رحیم درانی

د کتاب نوم: خاندېدونکې غوټۍ
ليکوال: مهدي وحيدي صدر
ژباړه: محمدرحيم دراني
د متن علمي کارپېژاندي: محمد هادي يوسفي غروي
د اينځورونو کارپېژاندي: سيد محسن موسوي
ويراستار: عبدالرحيم دراني
طراحي او اجرا: د نور کوثر سيماي شرکت
اينځورګر: حکيمه شريفي
رنګ ورکوونکې: اشرف حسيني
خپروونکې: د اهلبيتو د نړيوالې غونډې د کلتوري چارو مرستيال
د چاپ وار: لومړی
د خپريدو تاريخ: ۱۳۸۸
چاپخانه: ليلى
چاپ ګڼه: ۵۰۰۰
شابک:
د دورې شابک:

د چاپ حق محفوظ دے
www.ahl-ul-bayt.org

د قریشو په قبیله کښې د "امنه بي بي" په شان پاکه او حیاداره جینۍ نه وه.

سره د دې چې د جاهلیت په وخت کښې اوسیده خو هیڅکله په ګناه نه وه ککړه شوې. په داسې وخت کښې چې خلکو د بتانو عبادت کاوۀ شرک یې کاوۀ او خپلې لوڼې یې ژوندۍ خښولې، د آمنه پلار هغې سره ډېره زیاده مینه کوله او د هغې به یې ډېر درناوې کاوۀ. وهب به تل په داسې لور فخر کاوۀ او د هغې بي بي له احترام او مرتبې خبر و. په هغه زمانه کښې چې د کاڼي او لرګي بتانو ته د عبادت کولو رواج و او د یوۀ خدای عبادت کول له خلکو هېر شوي وو، هغه وخت چې د مکې د خلکو خواړه حرام او ککړ وو، وهب او د هغه کورنۍ به پاک او روغ خوراکونه خوړل او همدارنګ په بخښنه، سخاوت او د غریبانو عجزانو په مرسته کښې له ټولو وړاندې وو. د قریشو قبیلے به هم د هغوي ډېر درناوے کاوۀ او هغه به یې د مکې له شریفو او نیکو کورنیو څخه ګڼله.

وهب د "بني زُهره" له طائفې څخه و او د قریشو قبیلې له مشرانو څخه ګڼل کیده. په میړنتوب، پاکۍ، امانتدارۍ، بخشش، مینه او شرافت کښې یې څارې نه لره. امنه د داسې برکتي پلار په لمن کښې اوسیږي او ژوند تېروي او د هغه هر ډول حمایت ورسره وي. په یوۀ

خدای او د ابراهیم په دین عقیده، په شریفه کورنۍ کښې اوسیدل او حلاله روزي خوړل د دې سبب شوې وو چې یوه داسې جینۍ وروزل شي چې د قریشو قبیله د دغې مرغللې په لرلو فخر وکړي. بي‌بي امنه یوه پاکه بي‌بي وه او په اخلاص او بندګۍ کښې د عربو یوه جینۍ هم د هغې مقام ته نه رسیدهٔ. بي‌بي امنه د یوهٔ خدای په عبادت، پرهیزګارۍ، ښکلا او حیاء، بزرګۍ، کمال، مینه او پاکلمنۍ کښې بې ثارې وه. وهب هم د خپلې دې مرغللې په مینه او خدمت کښې څه کمې نه کاوهٔ،

او د داسې نعمت په ورکولو یې د خدای شکر وباسه. د قریشو ډېرو کسانو ته د دغې بي‌بي د مقام پته نه وه او د هغې له روښانه راتلونکي وخته خبر نه وو.

د امنه بي‌بي دې بیلګو ته په پام، ډېر خلک د هغې غوښتو ته راتلل او د ډېرو دا ارمان و چې هغه یې ښځه شي.

ډېر خلک به د هغې غوښتې ته ورتلل او له وهبه به یې د هغې غوښته کوله خو هر ځل به ورته هغې بي‌بي "نه" ځواب ورکاوهٔ او فرمایل به یې: "لا تر اوسه مې د وادهٔ وخت نه دے رسیدلے". د مکې لویانو او غټو خلکو به بیل بیل د امنې بي‌بي پلار سره لیدل کول او هغه به یې ترې غوښتله خو د هغوي غوښته هیڅکله ترسره نه شوه. په ورځو کښې یوه ورځ عبدالمطلب د وهب ملاقات ته

ورغے. وهب، چې د هغه حضرت په راتللو ډېر خوشحال شوے و هغه ته يې هرکلے وويل او د هغه يې ډېر درناوے وکړ. له ډېرو خبرو وروسته عبدالمطلب وهب ته وويل: "که اجازت راکوې نو د دې لپاره راغلے يم چې ستا لور امنه د خپل زوي عبدالله لپاره وغواړم" وهب چې د دې خبره په اوريدلو ډېر خوشحال شوے و وويل: "اوس دا خبره خپلې لور سره کوم او ځواب يې تا ته راوړم". عبدالله هم د عربو د ځوانانو تر مينځ مشهور و تر دې چې ډېرې پيغلې هغه سره د واده په ارمان وې خو عبدالله نه قبلوله او هغوي ته به يې "نه" ځواب ورکاوهٔ.

د قريشو پيغلو د عبدالله په پاکۍ او ښکلا کښې څه شک نه کاوهٔ او هغه سره د وادهٔ په ارمان وې خو عبدالله د خداى د تقدير په تمه و او تل به يې د خداى غوښته په نظر کښې ساتله. کله چې وهب خپلې لور ته دا خبره وکړه امنه هم خپلې حياء سره د هغه غوښته قبوله کړه او ښه ځواب يې ورکړ. له دې وروسته عبدالله او امنه خپلو کښې وادهٔ وکړ او وړه کورنۍ يې جوړه کړه. څه موده پس امنه د داسې ماشوم په انتظار وه چې "محمد" ونومولے شو. هو! امنه مور شوه، د خاتم پيغمبران مور! له دې وړاندې ورته دا زيرے ورکړے شوے و چې د هغې زوے به پيغمبر جوړيږي او امنه په دې خبره خوشحاله د زوي په انتظار وه. خو د حضرت محمد(ص) له زوکړے وړاندې

پلار یې عبدالله له دنیا لاړ او امنه په لوی غم کښې یوازې پاتې شوه. اخر دا چې د خپل پلار له وفاته څه وخت پس پیغمبر(ص) وزیږید او د نړۍ سترګې د هغه په وجود ورښانه شوې. په حقیقت کښې بي‌بي امنه د هغې مرغللې سیپۍ وه چې نوم یې محمد و.

څو کاله تېر شول. حضرت محمد(ص) لوی شو. حضرت محمد(ص) لا د شپږو کالو چې مور یې، په هغه سفر کښې چې پیغمبر(ص) ورسره د یثرب په لور لاړ و، بیماره شوه. هغې پاکې بي‌بي د خپل ژوند اخرنۍ ورځې تېرولې او څنګه چې به یې خپل ماشوم ته کتل نو دا شعرونه به یې ویل: "څه چې مې په خوب کښې لیدلي دي که هغه صحیح وي نو ته هماغه په بندګانو باندې د خدای خوښ کړے پیغمبر یې، په مکه او نورو ځایونو کښې، د اسلام او د توحید د دعوت لپاره، د خپل بزرګ نیکه ابراهیم د دین، مبعوث کیږې به، خدای ته د بتانو له دوستی او عبادته ساتلې یې" بیا یې نور داسې وویل: "هر یو ژوندې مړ کیږي او هر یو نوې زړیږي او زه به مړه شم خو نوم به مې باقي پاتې شي ځکه چې نیک زوے مې پیدا شوے دے".

هغه وخت بیا امنه بي‌بي د خپلې ناروغۍ په سبب له دنیا لاړه او په ابواء کښې خاورو ته وسپارل شوه خو تر څو چې د محمد(ص) نوم ژوندے دے نو د مور بي‌بي نوم او یاد به یې هم ژوندے وي.

نامه: امنه

د پلار نامه: وهب

زوکړه: له هجرته **۷۲**کاله وړاندې

د وفات کال: له هجرته **۴۲**کاله وړاندې

عمر: **۳۰** کاله

د دفن ځای: ابوا ، مدينې سره نژدې

---

سرچينې:

مجلسي، بحارالانوار، ۷۱مخ،

قمي، کُحل البصر، **۵۱- ۵۷**مخونه،

امين، عاملي، اعيان الشيعه، ۱ټوک، **۲۱۹**مخ،

يوسفي غروی، موسوعه التاريخ الاسلامی، ۱ټوک، **۲۸۳**مخ.

د اهلبيتو(ع) نړيوالې ټولنې د اسلامي کلتور د رواج کولو لپاره دا کتاب خپور کړے دے، اولياء، روزونکي او لوستونکي خپل وړانديزونه او نيوکې په دې پتې راليږلې شي.

د کلتوري چارو مرستيال

ټيليفون: **۰۲۵۱-۲۱۳۱۴۵۱** فيکس: ۰۲۵۱-۲۹۱۳۱۰۰

صندوق شميره: **۳۷۱۸۵-۸۳۷**

Web Site: www.ahl-ul-bayt.org E,mail: info@ahl-ul-bayt.org